ښاغلی Diijon DaCosta, Sr.، *د بورډ رییس*
آغلې Deirdre P. Pierce، *مرستياله رييسه*
مېرمن Anna Hill
مېرمن Whitney McGinniss
مېرمن Allyson Gevertz
مېرمن Vickie B. Turner
ډاکټر Joyce Morley

DeKalb County School District

ډاکټر Devon Q. Horton، *آمر*

**اړيکه ونيسئ:** **د سمدستي خپرېدو لپاره**

Donald Porter, *Ed.D.* 678-481-4110 جولای 2024
Carla Parker 404-734-1717

# DCSD د 2024-25 ښوونځي کال لپاره
# د 20 نويو مديرانو د ټاکنې لمانځنه کوي

(STONE MOUNTAIN, GA) د DeKalb کاونټي ښوونځي ولسوالی (*DCSD*) د 20 داسي الهام بخښونکو نويو مديرانو ګمارنه اعلان کړه چي خپل اړونده ښوونځي د *نويو کچو، نويو لوړتياو* په لور رهبري کوي کوم چي د 2024-25 ښوونيز کال لپاره د ولسوالی هدف دی. Avondale، Bob Mathis، Briar Vista، Columbia، Dunwoody، Hawthorne، Henderson Mill، Marbut، Pine Ridge، International Student Center، Cedar Grove، Lithonia، Shadow Rock، Smoke Rise او Woodward ابتدايي ښوونځي، Peachtree او Stephenson منځني ښوونځي او Columbia، Druid Hills او Southwest DeKalb عالي ښوونځي د دې استثنايي ښوونکو تر لارښووني لاندې په زړه پورې سفر پيلولو لپاره چمتو دي.

د DCSD آمر ډاکټر Devon Q. Horton د ښوونځي په دغه غوره کيفيت لرونکي مديرانو باندې د خپل باور څرګندونه او له هغوي څخه يې مننه وکړه.

ډاکټر Horton وويل چي موږ په دې وياړو چي دې غوره رهبرانو ته په خپلو نوو دندو کې ښه راغلاست ووايو. زه په دې باور لرم چي دا مديران به د نوي ښوونيز کال په اوږدو کې او له هغې څخه وروسته په خپلو ودانيو کې د زده کوونکو لپاره د لوړ کيفيت زده کړو په چمتو کولو کې خپلې ټولې هڅې په کار واچوي. "زه په دوی کې له هر يو څخه د خپلو زده کوونکو، ښوونکو او کارمندانو د رهبرۍ او اميد په خاطر په زړه پورې پرمختګ او لاسته راوړنو لپاره د مسؤليت په غاړه اخيستلو څخه مننه کوم."

راتلونکي هغه مديران چي د ښوونځي د نوم له مخې په الفبا سره ترتيب شوي په لاندې ډول دي:

- **Avondale ابتدايي ښوونځی – ډاکټرهCandace Sagers:** ډاکټره Sagers يوه نوموړې رهبره ده چي د زده کړې په بخش کې 18 کاله تجربه لري. په DeKalb کې د Redan عالي ښوونځي يوه وياړلې فارغ التحصيله چي تيره لسيزه يې د Avondale ابتدايي ښوونځي کې د مرستيالې مديرې په توګه دنده ترسره کړې ده پداسې حال کې چي رهبري يې د زيات شمير ستاينليکونو د لاسته راوړني په نتيجه کې پيژندل شوې ده.
- **Bob Mathis ابتدايي ښوونځی – Candace Wade-Blaise:** د DCSD روزل شوې آغلې Wade-Blaise په ولسوالی کې د ښوونکي، اکادميک روزونکي او مرستيالې مديرې په توګه دندې ترسره کړي. هغه پخوا د Redan په ابتدايي ښوونځي کې مرستياله مديره وه.
- **Briar Vista ابتدايي ښوونځی – Dyani Robinson:** آغلې Robinson له 2018 کال راهيسې په Briar Vista کې د مرستيالې مديرې په توګه دنده ترسره کړې ده. د هغې پراخه مخينې او د زده کړې په بخش کې لوړتيا تر لاسه کولو ته ژورې ژمنتيا د Briar Vista په اکادميک چاپيريال کې د پام وړ بدلون رامنځته کړی دی.

-نور-

- **Cedar Grove منځني ښوونځی – James Holloway:** ښاغلی Holloway له 18 کالو راهیسي د یو ښوونکي په توګه کار کوي چې له هغې جملې څخه څلور کاله د مرستیال مدیر په توګه تجربه لري. هغه په 2006 د Bethune منځني ښوونځي کې د ښوونکي په توګه خپله دنده پیل کړه او په بېلابېلو دندو کې یې د عالي او منځني ښوونځي په کچو د ماشومانو خدمت ته دوام ورکړی دی.
- **Columbia ابتدايي ښوونځی - Candace Hardy:** آغلې Hardy چې د زده کړې په بخش کې له 21 کالو څخه زیاته تجربه لري په DCSD کې د Toney او Columbia ابتدايي ښوونځیو کې د مرستیالې مدیرې په توګه دنده ترسره کړې ده.
- **Columbia عالي ښوونځی – ډاکټره Pammy Darden:** ډاکټرې Darden ته د Columbia عالي ښوونځي کې له مرستیالې مدیرې څخه د مدیرې په توګه ترفیع ورکړل شوې ده. هغه د زده کړې په برخه کې د ښوونکې، د ښوونځي د آزموینو تنظیموونکې، مرستیالې مدیرې او د مدیرې په توګه له 25 کلونو څخه ډېره تجربه لري.
- **Druid Hills عالي ښوونځی – ډاکټره Michelle Stewart:** ډاکټره Stewart له 25 کالو راهیسي یوه لیواله ښوونکې ده. هغې د بس ډرایور، د ترانسپورت د چارو تنظیموونکې، ښوونکې، د لوست روزونکې او د مرستیالې مدیرې په توګه دنده ترسره کړې.
- **Dunwoody ابتدايي ښوونځی – Kanessa Fain:** د زده کړې په بخش کې 23 کاله تجربه لرونکې آغلې Fain د ابتدايي ښوونکې، د سواد زده کړې او ریاضیاتو لپاره د ولسوالۍ اکاډمیک روزونکې، د MTSS تنظیموونکې او مرستیالې مدیرې په توګه دنده ترسره کړې ده. هغه یوه متعهده او لیواله ښوونکې ده.
- **Hawthorne ابتدايي ښوونځی – Kia Henley:** آغلې Henley د زده کړې په بخش کې 20 کاله او د ښوونې رهبرۍ/اداره کې 15 کاله تجربه لري. هغې په دې وروستیو کې د John Lewis ابتدايي ښوونځي کې د مرستیالې مدیرې په توګه دنده ترسره کړې ده.
- **Henderson Mill ابتدايي ښوونځی – ډاکټرهRegina Blanton:** د زده کړې په بخش کې 24 کاله تجربه لرونکې ډاکټرې Blanton په دې وروستیو کې په Henderson Mill ښوونځي کې د مرستیالې مدیرې په توګه دنده ترسره کړې. هغې خپله دنده د Japan په Yokota کې د ښوونکې په توګه پیل کړه او په چټکۍ سره یې د رهبرۍ دندو ته پرمختګ وکړ.
- **د نړیوالو زده کوونکو مرکز - Gregory Wickersham:** د 28 کلونو راهیسي د ښوونکي په توګه کارکوونکی ښاغلی Wickersham د نړیوالو زده کوونکو مرکز ته د مدیر په توګه راستنیږي. نوموړي په دغه مرکز کې له 2015 څخه تر 2017 پورې دوه کاله تدریس کړی. د مدیر دنده ترلاسه کولو دمخه، نومړی په Jolley ابتدايي ښوونځي کې د مرستیال مدیر او د ولسوالۍ د انګلیسي ژبې زده کوونکو څانګې د تنظیموونکي په توګه کار کولو.
- **Lithonia ابتدايي ښوونځی - ډاکټر Cornelius Polk:** ډاکټر Polk له لسو کلونو راهیسي د زده کړې په بخش کې کار کوي. DeKalb کاونټي ته د راتلو دمخه، هغه پخوا د Fulton او Clayton کاونټي ښوونځي ولسوالیو کې کار کړی. هغه پدې وروستیو کې په Clayton کاونټي کې د مرستیال مدیر او ښوونکي سربیره د سرپرست مدیر په توګه هم دنده ترسره کړې.
- **Marbut ابتدايي ښوونځی – ډاکټر Tiffany Reeves:** د زده کړې په برخه کې د 22 کلونو او په DCSD کې د اوو کلونو تجربه لرونکي ډاکټر Reeves په Navie J. Harris Theme ښوونځي کې د اکاډمیک بریالیتوب او د ښوونکو د ساتلو په کچه کې د پام وړ مرسته کړې.
- **Peachtree** منځنی ښوونځی – **ډاکټر Jennifer Gates:** ډاکټر Gates Peachtree او DCSD ته د زده کړې په برخه کې نږدې 20 کلنه تجربه راوړي. هغې په کاناډا او د Cobb کاونټي ښوونځي ولسوالۍ کې د ښوونکي، اکاډمیک روزونکي، لارښود او مرستیال مدیر په توګه دنده ترسره کړې.
- **Pine Ridge ابتدايي ښوونځی – Lindsey Scott:** آغلې Scott چې د 17 کلونو راهیسي د ښوونکي په توګه کار کوي د Hawthorne ابتدايي ښوونځي کې د مرستیالې مدیرې په توګه دنده ترسره کړې او له 2003 کال راهیسي د یادې ولسوالۍ سره تړلې ده.

-نور-

د Robert R. Freeman اداري تولګه
1701 Mountain Industrial Blvd. | Stone Mountain, GA 30083
678.676.1200

- **Shadow Rock ابتدايي ښوونځی - ډاکټر Fricreta Rice:** ډاکټر Rice **د زده کړې په برخه کې د خپلې تجربې 15 کلنی ته رسیدلې. هغې پخوا د مرستیالې مدیرې**، د چمتووالي او تدریس لپاره د ښوونکو اکاډمی (TAPP) د نصاب ترتيبوني او پلان جوړونکي ښوونکي، ښوونيزه روزونکي او ښوونکي په توګه دنده ترسره کړې.
- **Smoke Rise ابتدايي ښوونځی – ډاکټره Krystye Tatum:** ډاکټر Tatum يوه تجربه لرونکي ښوونکي ده چې د 20 کلونو څخه ډیره تجربه لري. هغې د ښوونکي، اکاډمیک روزونکي او په دې وروستيو کې د Woodward ابتدايي ښوونځي کې د مرستيالي مديرې په توګه دنده ترسره کړې ده.
- **Southwest DeKalb عالي ښوونځی –Brandon Thompson:** ښاغلی Thompson له 19 کالو راهیسي د يو ښوونکي په توګه کار کوي چې پخوا يې د ډاکټر Martin Luther King, Jr په عالي ښوونځي کې د ښووني مرستيال مدير په توګه دنده ترسره کړې.
- **Stephenson منځنی ښوونځی - Tonya Izzard:** آغلې Izzard چې د زده کړې 18 کلنه تجربه لري خپل ټول کلونه يې په DeKalb کې کار کړی دی چې ترټولو وروسته يې په Henderson منځني ښوونځي کې د مرستيالي مديرې په توګه کار کول شامل دي.
- **Woodward ابتدايي ښوونځی – Kimberly Clark:** د زده کړې په بخش کې 22 کاله تجربه لرونکي آغلې Clark په Doraville United او Dresden ابتدايي ښوونځيو کې د مرستيالي مديرې په توګه دنده ترسره کړې ده.

XXX

د Robert R. Freeman اداري ټولګه
1701 Mountain Industrial Blvd. | Stone Mountain, GA 30083
678.676.1200